مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۵/۲۳

# ښکاري او شیشکه

## (د ماشومانو لپاره یوه فولکلوریکه کیسه)

یو و او یو نه و، په یو کلي کې یو ښکاري له خپلې کونډې مور سره اوسیده، چې دا کلی د یو لوی ځنګل خواته پروت و او ښکاري نوی واده کړی و.
څه موده وروسته د ښکاري میرمن چې مېندواره وه، د خپل ماشوم د زیږون پر مهال یې ژوند له لاسه ورکړ او ماشوم یې بې موره نیا ابی ته پاتې شو.
نیاابی یې په خپل لمسي ډیرې خوارۍ کولې، مدام به یې نازاوه او چې کرار کرار رالوي شو، نو به یې پر خپلې اوږه کېښینولې او د کلي پر پټیو او شنو پولو به یې ګرځاوه.
ښکاري پلار ته یې خپل یوازنی زوی ډیر ګران و او تل به یې ورته رنګا رنګ مارغان په جال کې نیول او د خپل زوی د خوشالۍ لپاره به یې میوې هم کورته راوړلې.
په همدې ډول وختونه تیریدل او دا هلک کرار کرار لویده. ښکاري چې به مدام د زوي په فکر کې و، یوه ورځ چې د ښکار په نیت له کوره وتلی و، نو یې د ځنګل په منځ کې د نښتر له لوړې ونې یو راښکته شوی جال ولیده، چې له وړاندې ورته د ښکاري پام شو.
ډیر ژر یې د ونې خواته ځان ورسوو او وې لیدل، چې په راښکته شوي جال کې، یو ووړوکی ماشوم پروت دی.
ښکاري ډیر ژر ځان په ډیر زیار او خواریو د ونې پورته څانګونو ته ورسوو، د نښتر د ونې پاڼې اغزنې وې او د ښکاري مړوندونه او لاسونه پرې سورې شول. سره له دې یې دغه ماشوم چې د خوو میاشتو و، په غیږ کې ونیوه او له ونې یې راښکته کړ.
په دې ورځ یې ښکار پریښود او دا ماشومه چې یوه ښکلې جینۍ وه، له ځان سره کورته راوړه. خپلې مور ته یې داسې وویل:
ابۍ جانې! دا دی زما زوي خوازک خور نه درلوده، الله پاک خور ورکړه. بیا یې ماشومه د مور په غیږ کې ورکړه. خوازک هم ډیر خوشاله شو او نیا ابۍ ورته ماشومه خور په غیږ کې ورکړه، خو خپل ښکاري زوي څخه یې تپوس وکړ:
اې زما بچیه! دا دې له کومه کړه؟ ښکاري خپلې مور ته ټوله کیسه وکړه، چې دا ماشومه جینۍ له خومره خطري ځای نه، راښکته کړې او کور ته یې د خپل زوي لپاره، چې خور ولري راوړله. مور یې ورته وویل:
زوي جانه! دا خو هسې هوای خبره نه ده، دا جینۍ به د چا لور وي او له کومه ځایه به د ځنګل دومره لوړ نښتر ته چا خیجولې وي.
ښکاري وویل: مورکې! هغه دې نه دې اوریدلي، چې وایي:
زما دې منه وي، که د ولي یا چنار د ونې وي،هم وي دې کنه...
خو مور یې اندیښمنه وه او ښه خبره دا وه، چې د جینۍ سره لس جوړې جامې او نور اړین توکي هم په دغه جال کې ایښودل شوي وو.
په دغه ورځ کله چې، د ښکاري مور غوښتل ماشومې ته جامې بدلې کړي، نو لا حیرانۍ واخیسته، ځکه چې د ماشومې د پښو پنځې شاته او دواړه پوندې مخې ته وې. دغه راز ماشومه ډیره ښکلې وه، خو د سر ویښتان یې ډیر ګڼ او ډیر اوږده وو، چې په دومره کم عمر کې داسې اوږدو او ډیرو ویښتانو حیرانه کړه. ورسره د لاسونو او پښو نوکان یې هم لکه د لویانو په څیر اوږده وو.
د ښکاري مور خپل زوی ته وویل:
اې زویه! دا ماشومه راته بل ډول ښکاري، د بنیادم په څیر نه ده. ښکاري وویل:
ابۍ ته هسې په دې ښکلې ماشومې کې خبرې راباسې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولۍ

مور يې زياته کړه:
راشه په خپله يې وګوره او بيا يې ورته د جينۍ نوکان، ويښتان او پښې ښکاره کړې. ښکاري وويل:
موركې! دا خو هم د الله پاک پيداوار دی، زما زوي خوازک که پوه شي، بيا به ترينه وويرېږي. مور يې ځواب ورکړ:

څه بيغمه اوسه، لمسي مئ نه ډاروم، زه به خپله خواري ورسره کوم او کيداي شي، چې يوه سمه جينۍ رالويه شي.
ورځې شپې تيريدلې او لس کاله وروسته هم په دې جينۍ کې کوم خاص بدلون نه ښکاريده، چې ښکاري پلار او نيا ابۍ يې په ډير غور سره څارله.
وختونه روان و او دا جينۍ چې له دولسو کلونو واوښته، نو په څيره او بدن کې ښکاره بدلون راښکاره شو، ورسره د دې په خوي او عادتونو کې هم. لکه ډير کله به يې په ځنګل کې منډې وهلې او يا به يې ځنګلي څاروي او مارغان رانيول او کله به يې هم هغوي څيرل او خامه غوښه به يې خوړله.
خوازک چې اوس له خپل ښکاري پلار سره، ملګری او تل به يې د ښکار غوښې کورته راوړلې، خو خور چې دوي شغله بلله، هغې به خامه غوښه خوړله او يا به ډير کله په ځنګل کې ورکه وه.
په همدې ډول څو موده تيره شوه او کله چې شغله ځوارلس کلنۍ ته ورسيده، نو يې راټينګول او پر کور کښينول لا ستونځمن شول. يو کال وروسته، خوازک او پلار يې په ښکار پسې له کوره وتلې و، چې نيا ابۍ يې د شغلې د واده خبره ،د يو لري خان له زوي سره کړې وه. کله چې دا دواړه پلار او زوي کورته راغلل، نو يې مور ورته داسې وويل:
اي زما بچيانو! د هغه وړاندې کلي خان چې ډير زورور دی او زموږ کليوال ترينه هم ويره لري، د هغه زوی زموږ شغله په ځنګل کې ليدلې پرې مين شوی دی، ما هم ورته پرته له کوم ځنډه هو وويل، سبا ته هغوي د واده نيټې ټاکلو لپاره راځي.
خوازک بيا هم د خپلې خورد واده کولو پلوی نه و، خو پلار او نيا ابۍ يې ورته وويل:
تر اوسه مو د کلی اوسيدونکو ته د شغلې په هکله څه نه دي ويلي او دا ښه خبره ده، چې زموږ کور له کليوالو ګوښه او ځنګل ته نږدې دی. ځکه شغله هر څه چې کوي، هغوي پرې نه خبريږي او د دې کارونه ټول د انسانانو له کړنو سره سمون نه لري.
دا خان دوي زورور خلک دي، ګوندې شغله په خپل کابو کې راولي، ځکه زموږ ټول چرګان او څاروي يې راته په يو ډول وژلي او غوښې ورته خوړلي دي. خوازک چې تر اوسه د شغلې د داسې کارونو په هکله نه پوهيده، چوپ پاتې شو.
نيا ابۍ ورته داسې کړه: خوازکه زويه! تا خو په ښکار کې پلار شاته کړی او ته مخکې يې، نو پريږده، چې خور دې الله پاک جوړه کړي او دا شتمن خلک به ورسره مرسته وکړي، چې داسې ناشولته کارونه ونه کړي.
همدا و، چې په ټاکلې ورځ د خان دوي له خوا د واده ورا راغله او شغله يې د واده په ښکلې جوړه کې خپل کلي ته په سره ډولۍ کې وېوړه.
هغه کلي د دوي له کلي وړاندې په يوه تنګه دره کې پروت و او د کليوالو تګ راتګ ورسره نه وو. ښکاري او مور سره يې د شغلې په هکله يو ډول ويره وه، چې نه يې غوښتل د هغې په لور لاړ شي.
همداسې شپې او ورځې تيرې شوی، تر څو يو کال پوره شو. د يو کال په موده کې خوازک څو ځلې غوښتل چې د شغلې کلي ته لاړ شي او د حال پوښتنه يې وکړي، خو پلار او نيا ابۍ به يې مخه نيوله، چې اوس کرار کښينه، که شغلې ته موږ ورياد شو، په خپله به راشی.
لا څو موده نوره هم تيره شوه، چې بله ورځ د خوازک د صبر کاسه ډکه شوه او له پلار سره ښکار ته لاړ نه شو، په دې بهانه چې سر يې خوږيږي. پلار يې چې ښکار پسې له کوره ووت، خپلې نيا ابۍ ته يې داسې وويل:
نن زه هرو مرو د شغلې کلي ته ځم او احوال به يې راوړم. نيا ابۍ يې هر څومره چې راګرځوو، خو خوازک ونه منله. نو يې ورته وويل:
پلار دې خپل دواړه تازي سپې له ځان سره وړي دي او ستا سپي ترلي ولاړ دي. زه به ستا لار څارم که راته حالت خطري ښکاره شو، نو به دواړه تازي سپي درپسې ايله کړم.
بيا يې خوازک ته اته دانې غوزان ورکړل او داسې ورته وويل:
دا غوزان ستا له نيکه نه چې هغه هم ښکاري و، پاتي دي، چې غوزان لوي کمال لري، ټول څلويښت دانې غوزان وو، چې ستا پلار او نيکه ترې په سختو حالاتو کې ګټه اخيستې ده، اوس ستا وار دی، بيا يې ورته د غوزانو په هکله لار ښوونې وکړې او خوازک رخصت شو.
ورځ له نيمايې واوښته چې خوازک د شغلې کلي ته ورسيده. خو په کلي کې د ژوندون کومه نښه ونه ليده، چوپه چوپيا وه، تر څو د هغه خان لوي کلا مخې ته ورسيده. په زړه کې تير شول:
لکه چې شغله خور مې په رېښتيا شيشکه وه او د کلي بنده ګان يې يا خوړلي او يا تښتيدلي دي.
نابېره يې ويرونکې غږ واوريده:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اي زما خوازکه وروره! تر اوسه کوم خوا ورک وې. خوازک چې پر خپل اس سپور و، ښکته شو، هغه يې وتړه او شغلي ته يې وکتل.
پر ټول ځان يې ویښتان ودریدل، ځکه چې د شغلي سترګې سرې وې، ویښتان يې تر پښو رسیدل او ځیره يې ډيره ویرونکې وه.
خوازک هر لور ته پام وکړ، هيڅ ژوندی سری نه ښکاریده. شغلي خوازک ته کړه.
ته په دې دیره کې پر کټ کښينه زه راځم.
خوازک کښيناست او شغله ښه شیبه وروسته را وګرځیده، بيا يې له خوازک نه پوښتنه وکړه. وروره! د اس دې څو پښې وې؟ خوازک کړه:
اس خو څلور پښې لري او زما د اس هم څلور پښې دي. د شغلي خوله په وینو ککړه وه، په غصې سره يې وویل:
نه دروغ مه وایه! ستا اس درې پښې درلودې. خوازک سمدستي وپوهیده، چې خبره خرابه ده، نو يې کړه:
هو سمه ده، درې پښې لري. لږه شیبه وروسته يې وویل، زه به ورشم، چې اس اوبه کړم. په همدې ډول يې د اس بله پښه پرې او وخوړه. بيا يې په ستنه پوښتنه وکړه، وروركه، وروركه! ستا اس څو پښې لري.خوازک وویل: زما د اس درې پښې دي. شغلي وویل: نه دروغ مه وایه! ستا اس دوه پښې لري. خوازک وویل، سمه ده دوه پښې لري.
په همدې ډول يې دوه درې ګړۍ وروسته، ټول اس وخوړ بيا راغله، له خوازک نه يې پوښتنه وکړه:
وروركه! تا اس درلود؟
خوازک کړه، هو ما اس درلود، خو پښې يې نه وې او پر سینه ښویده.
شغلي کړه:
خوازکه! تا هيڅ اس نه درلود. خوازک وویل سمه ده، ما هيڅ اس نه درلود. بيا يې شغلي ته وویل:
خورې ته به هم تږې يې او زه هم تږی شوی یم، که له هغه پورې چيني نه راته اوبه راوړې. شغله هم ډيره تږې وه او خوازک ورته د اوبو جام نه، بلکې غلبيل په لاس کې ورکړ او شغله په منډه د چيني په لور روانه شوه.
چيني ته د رسیدلو سره سم، لومړی په خپله پر چينه ورپریوته او تر ډيره يې اوبه وسکلې، ورپسې يې غلبيل په اوبو کې ښکته کړ، چې ډک شو، بيا يې راپورته کړ، خو غلبيل به بيا خالي شو. په همدې ډول يې هڅه کوله غلبيل له اوبو ډک کړي.
کله چې شغله له سترګو ورانډې شوه، نو خوازک د خپل اس احوال واخيست، چې يوازې پوټکي سراو کولمې يې پاتې وې.
بيا يې د خپل کور په لور په خغاسته پيل وکړ. دومره په چټکۍ يې منډې وهلې، چې په خپله هم ځانته حيران و. له ورايه ورته د ځنګل وني ښکاریدې او دی د درې په منځ کې په تنګه لار کې په منډه روان و.
اخوا يې نیا ابۍ شیدې په کټوه کې پر اور کېښودې، چې هغه خوټیدې او دې به هره شیبه کتلې، تر څو چې په شیدو کې د وینو څاڅکي پیدا شول، هماغه و، چې دواړه تازي سپي يې ورپسې ایله کړل.
سپي لکه د باد والوتل او د شغلي د کلي په لور روان شول.
په دې شیبه کې شغله قاریدلې د ورور خوازک پسې راورسیده او له لرې ورته غږ کړ:
خوازکه! زه دې تیرایستلم او ته راځنې تښتې. په ډيرې چټکۍ د خوازک خواته نږدې کیدله. دلته خوازک ته د نیا ابۍ خبره ورياده شوه، چې غوزان پر لاره ځانته مخامخ ګوزار کړي. همدا کار يې وکړ، تر څو چې شغله رارسیده، نو خوازک اته داني غوزان په لار خپل مخ ته، ګوزار کړل.
غوزان، پر ځمکه له ولیدلو سره سم، پر لار کتار لوې نيالګي شو او خوزاک سمدستي نيالګي ته وخوت.
دلته شغله راورسیده او پر خپلو تیرو غاښونو يې په یوه شیبه کې نيالګی راچپه کړ. مخکې له دې چې نيالګی پر ځمکه ولویږي، خوازک بل نيالګي ته ټوپ وواهه.
هغه يې هم راچپه کړ، خوازک دریم نيالګي ته ټوپ کړ، په همدې توګه اوه داني نيالګي د شیشکي شغلې په غاښونو پرې شول.
خوازک ځانته وکتل چې اوس به يې شیشکه خور وخوري، خو د سپو غپا رانږدې شوه او په وروستی شیبه کې، خوازک له شیشکي وژغوره. خوازک هم د سپو په مرسته شغله شیشکه په رسیو کلکه وتړله او د تور ځنګل ونو منځ کې پریښوده.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولــئ